## سیاسي اسلام څه ته وايي او ايا سیاسي اسلام مردود دی؟




له پېړيو حاکمیت وروسته، خورا ارزښتناک څیز چې په وروستۍ یوه پېړۍ کې د هغه په نشت کې د مسلمانانو اختلافي فقهي لیدلوري په بې اتفاقۍ او اوسني مرزونه په دښمنۍ بدل شوي؛ هغه له سیاسي نظام او د واحدې حکومتوالۍ له طريقې څخه د سم درک نشت دی؛ چې له امله يې په ډېر بد ډول له هر ادرسه ځپل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د يادې مسئلې فهم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او په ځانګړي ډول د نوموړي تر مړینې وروسته د اصحابو کرامو او د مسلمانانو لومړۍ الګو لپاره ډېر اسانه و.

يو شمېر کسان د اسلام له واقعیت نه له سم درک پرته په اسلام کې د دولت په اړه داسې فکر کوي چې ګڼې اسلام له همغه ابتدا څخه سياسي نظام نه درلود او له پرديو فرهنګونو يې اخيستی دی. که داسې وي، نو پوښتنه دا ده چې دغه نوي پر پښو درېدلي دولت څنګه وکړای شول چې د پيغمبر صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته د وخت دوې لوی امپراتورۍ له پښو وغورځوي؟ ځينې نور بيا اسلام ته د غرب له هندارې ګوري، که پر کوم څه پوهېږي يا نه، اسلامي او غير اسلامي يې بولي.

هغه فکرونه چې د مسلمانانو ټولنيز او سياسي ډګر ته دننه شوي دي:
که څه هم د دويمې هجري پېړي په لومړيو کې د غرب فلسفي افکار اسلامي ټولنې ته دننه شول، خو اغېز يې دومره نه و چې د څو پېړيو په اږدو کې له ټولنې څخه له اسلامي فقې، ثقافت، فرهنګ او سیاسي افکار سره اشنايي لرې کړي. پر دې سربېره، په اوومه هجري پېړۍ کې غرب د مسلمانانو پر وړاندې فرهنګي، سياسي او تبشري جګړې پيل کړې. دغه ټولې جګړې د دې لامل نه شوې چې ټولنه او د اسلام سياسي نظام ټول له منځه

يوسي. غرب هغه وخت ستونزې رامنځته کړې چې د اروپا روڼ اندو (روشنفکرانو) د عيسويت انحرافات وګواښل؛ له دين څخه د دولت بېلتون (سکولريزم)، د دولت او ملت مفکورې او ملي مرزونه يې رامنځته کړل؛ چې بيا وروسته د خپلواکۍ او ملتونو ازادۍ مفکوره هم رامنځته شوه.

له دين څخه د دولت بېلتون مفکوره د لومړي ځل لپاره په اروپا کې د کاتوليکانو او پروټسټانټانو تر منځ له ۳۰ کلنې مذهبي جګړې (۱۶۱۸ـ ۱۶۴۸م) وروسته رامنځته شوه. دا جنګونه په ښکاره د دوو مذهبونو تر منځ شخړې وې، خو په حقيقت کې د اروپا له نورو قدرتونو لکه فرانسې، هالنډ، ډنمارک او سويډن سره د هابسبورګي امپراتورۍ، اتريش او اسپانيا تر منځ په سيالۍ بدله شوه. له همدې امله د «هابسبورګ ـ فرانسې» په جګړه مشهوره ده. په ۱۶۴۸م کال کې د وسټفاليا کنفرانس په جوړېدو تر يوه ځايه دغه جګړې کمې شوې، خو په ختيځه اروپا کې د ۱۸مې پېړۍ تر وروستيو جګړې دوام درلود. په هر حال، د وستفاليا کنفرانس و چې د لومړي ځل لپاره د دين او دولت بېلتون، ملي دولتونو، د مرزونو ټاکلو او د دولت ـ ملت تشکيل مفکورې په اروپايي هېوادونو کې رامنځته شوې. په داسې حال کې چې وړاندې به د هر دولت جغرافيايي پراخوالی د وړيتا او قدرت پر بنسټ ټاکل کېده، نه داسې لکه اوسني مرزونه. په قدرتونو کې دا ډول رسم نه يوازې په اروپا، بلکې په نورو ملتونو او تمدنونو کې هم و.

د ۲۰مې پېړۍ نيمايي ته نېږدې کله چې دويمه نړيواله جګړه پای ته ورسېده، امريکا په رسمي توګه د نړۍ سياسي، نظامي او اقتصادي مراداتو ته دننه شوه او وروسته يې دې ته پام شو چې د منځني ختيځ ډېرې سيمې او د افريقا لويه برخه اروپايي ښکېلاکګرو په خپلو کې سره وېشلې دي. نو همدا وه چې د امريکا د بهرني سياست مفکرينو د خپلواکۍ غوښتنې مفکوره په ښکاره په ښکېلاک کې ګير ملتونو د ازادۍ په موخه، خو په حقيقت کې د ښکلاک بېرون کولو په موخه او همدارنګه د هغوی پر مستعمرو  يې د واک لپاره مطرح کړه؛ تر دې چې د نړۍ اوسنی رسم يې خپل کړ.

کومه خپلواکي؟

که اوسني هېوادونه په اصطلاح د درېيمې نړۍ هېوادونه په امريکايي مفهوم خپلواک ونوموو؛ نو د يو لوی نړيوال سازمان په توګه د ملګرو ملتونو سازمان د دغو هېوادونو کومې اوسنۍ او تېرې ستونزې حل کړې دي؟ د فلسطين اشغال، د کشمير مسئله، د برما او بوسنيا د مسلمانانو وژنه او يا هم د لويو قدرتونو له خوا د مالونو د لوټ له امله د افريقا د فقر مسئله يا د ډيورنډ مرزي اختلافونه؛ چې د انګليس استعمار رامنځته کړي وو او اوس په ملګرو ملتونو کې اساسي رول لوبوي...؟ نو پر همدې بنسټ، که خپلواکي په يوه بڼه نه په يوه بڼه له ظلم څخه د بشپړ ژغورل کېدو په مفهوم وي، نو تر ټولو لوی ظلم او استبداد د اوسني نړيوال نظم موجوديت دی؛ چې په ښکاره يې په راس

کې ملګري ملتونه او په حقیقت کې غربي قدرتونه دي. له دې پرته خپلواکۍ باید ته یوازې د خیالي او فاضله مدینې په هیله ونه کتل شي.

دا پخپله هغه اصطلاحات دي چې ځانګړو مفاهیمو ته یې ځای ورکړی، چې د غرب د ستونزو پر اساس رامنځته شوي او د وخت په تېرېدو د مسلمانانو سیاسي او ټولنیز جوړښت ته دننه شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې اسلام د دغه هر یوه پر خلاف د بشر او په ځانګړي ډول مسلمانانو ستونزې حل کړې دي. په بل عبارت، پورتني ټول افکار نه یوازې دا چې د مسلمانانو ستونزې نه حلوي، بلکې د اسلام له لیدلوري مردود ګڼل کېږي. نو پر همدې بنسټ، هر څوک چې پر دغه لیدلوري باور ولري، په حقیقت کې یې اسلام ته د عیسویت له نظره کتلي، چې هغه لیدلوری انحرافي دی.

سیاسي اسلام څه دی؟

سیاسي اسلام هغه اصطلاح ده چې د ۲۰ مې پېړۍ په وروستیو کې د غرب د فکري ښوونځیو له لوري د ځانګړې موخې لپاره وکارول شوه؛ لکه څنګه چې له دولت څخه د دین بېلتون مفکورې، ملي مرزونه او خپلواکي له وړاندې مطرح شوي وو. غرب په ځانګړي ډول د کمونیزم تر ماتې او په نړۍ کې د خپل سیاسي او اقتصادي نظام له غوړېدو وروسته دې پایلې ته ورسېد، چې بله هېڅ ایډیولوژي به پر پانګوالۍ برلاسې نه شي. له همدې امله یې د اسلام او نورو تمدنونو ته سپکاوی پیل کړ. لکه څنګه چې د ایټالیا پخواني لومړي وزیر «برلوسکوني» مسلمانانو ته په خطاب کې وویل: «زموږ تمدن او فرهنګ ستاسو تر تمدن او فرهنګ غوره او لوی دی او زموږ خدای ستاسو تر خدای څواکمن دی.»

البته دغه د اسلام په اړه د ډېرو غربي مفکرینو لیدلوری دی. تر ټولو وړاندې د امریکا مفکرینو دا درک کړې چې اسلامي نړۍ نه یوازې داچې ماته شوې نه ده، بلکې بیداري یې ډېره شوې ده. په همدې پلمه د جورج بوش په وخت کې یې د اسلام له منځه وړلو لپاره نظامي ځواک ته مخه کړه. لکه څنګه چې د امریکا د وخت دفاع وزیر «ډونالډ رامسفلډ» اعلان وکړ: «موږ فکري جګړه بایللې.» موخه یې دا وه چې له اسلام سره په فکري جګړه کې د ډیپلوماټیکو خبرو اترو اسلوب پای ته رسېدلی دی، ځکه دا اسلوب په نړۍ کې د سیاسي اسلام د مخ پر ودې مفکورې په دلیل ناکام شوی دی.له دغو څرګندونو څخه د نوموړي موخه د واقعي اسلام، چې هغه یې «سیاسي اسلام» تعریف کړی، د له منځه وړلو لپاره له نظامي ځواک او د ګواښلو له اسلوبو څخه ګټه اخیستل وو.

دې ته په کتو، د امریکا مفکرنیو د مخ پر ودې ځانګړو اسلامي افکارو په مطالعې خپل برداشت «سایسي اسلام» تعریف کړ. له همدې امله، سیاسي اسلام داسې څه نه دی چې په فقه، سیرت او د اسلام په تاریخ کې یې پیدا کړو، چې د مسلمانانو ځینو علماوو ورته مخه کړې، بلکې له سیاسي اسلام څخه موخه د ربښتیني اسلام پر پښو

دربېدو لپاره د مسلمانان له بيدارۍ څخه د غرب درک دی؛ چې د يو واحد دولت په اډانه کې يې غوښتنه کوي. هغه اډانه چې له «دين څخه د دولت بېلتون» مفکورې، دروغجن ملي مرزونه، ملي ګټې او امريکايي خپلواکي يې مردود بللي دي. اسلام ته له دولتي ليدلوري ګوري، چې جغرافيايي پراخوالی يې جهاد ټاکي، نه ملګري ملتونه او اوسنی نړيوال نظم. نو پر همدې اساس، که سياسي اسلام ته چې غرب مطرح کړی، له فقهي ليدلوري وګورو، له شک پرته چې داسې څه په تاريخ او اسلامي فقه کې نشته؛ خو که دې ته پام وکړو چې غرب رښتينی اسلام سياسي اسلام تعريف کړی، نو له شک پرته چې مسلمانان همداسې يو څه غواړي او د مسلمانانو له بيدارۍ څخه موخه همدا مسله ده؛ چې غرب ترې وېرېږي.

هغه کسان چې د غرب په ملاتړ سياسي اسلام ردوي، بايد تر ټولو مخکې هغه څه هم مردود وبولي چې په اسلام کې له حربي کفارو سره دوستي هم مردوده ده؛ دوستي د ملګرو ملتونو سازمان د کاذب مشروعيت په ګډون که په هر دليل وي. پر دې سربېره له «دين څخه د دولت جدايۍ مفکورې»، ملي مرزونه، ملي ګټې او همدارنګه امريکايي خپلواکي غوښتنه له دې وړاندې مردود ګڼل شوي دي. د دې ټولو لپاره داسې دليلونه شته چې د مسلمانانو ۱۴ سوه کلن تاريخ پرې شاهد دی؛ چې غرب يې نچوړ سياسي اسلام تعريف کړی. داسې نه شي کېدای چې مشروعيت يې له اوسني واقعيت نه واخلو؛ کېدای شي يوازې په همدې دليل هره مسئله اسلامي او غير اسلامي تعريف کړي.

فکري جګړه تر نظامي جګړې خطرناکه ده

دا هم بايد له ياده ونه باسو چې غرب پر نظامي جګړې سربېره، د ملتونو په ځانګړي ډول د مسلمانانو پر وړاندې سياسي او فکري جګړې پيل کړې دي. له دې ټولو جګړو څخه خورا خطرناکه جګړه سياسي او تر دې هم خطرناکه فکري جګړه ده. د سياسي جګړې خطرناکتوب داسې دی چې مفکورې، ملي مرزونو، ملي ګټو، دولت-ملت او خپلواکۍ مفکورې يې د مسلمانانو د حکومتوالۍ په قوانينو او رسم کې ځای کړې دي. فکري جګړه بيا تر ټولو ګوابنونکې ده، ځکه هغه حقيقي جګړه چې ارزښت لري، فکري جګړه ده. په دې جګړه کې د نيمې بريا او يا يوې برخې بريا په نوم کوم څه نشته. نو له همدې امله فکري جګړه د يو فکر له بريا او مخالف فکر له بشپړې ماتې پرته، هېڅ وخت پای ته نه رسېږي. يا په بل عبارت، په فکري جګړه کې بريا له يوې پرېکندې او څرګندې بريا پرته، بريا نه بلل کېږي، تر هغه چې له نړۍ څخه د مخالفې ايډيولوژۍ افکار له منځه يوسي.

غرب او په راس کې يې امريکا پر دې ښه پوهېږي چې تر اوسه يې اسلام ته ماتې نه ده ورکړې او پرې بريالي شوي نه دي. دا چاره غربيان سخت ځوروي، ځکه پر اسلام په بريا کې پاتې راتلو، هغوی حيران کړي او پر دې نه پوهېږي چې د اسلامي ايډيولوژۍ د استقامت رمز؛ د غرب د ټولو ځواکونو او لوړې پوهې پر وړاندې د هغې نه

ماتېدل او د مسلمانانو بې وسي او پس پاتې کېدو دلیل څه دی؟ نو له همدې امله یې مفکورې منحرفې کړې. خپل دښمن او د هغه مفکوره په ټولنه کې په هر نامه چې وتوانېږي، منفوره او له وحشته ډکه ښیي. نو د حیرانتیا ځای نه دی چې واحد اسلام، چې د بشریت د هوساینې لپاره راغلی، ځینې وختونه یې په تندلاري، ترهګر، افراطي، تروریست او سیاسي اسلام تعریفوي.

هغه کسان چې دا نه مني چې واقعي اسلام له کفر او د استبداد له ډولونو سره یې جووجاړی نه لري، دومره خو باید له تاریخي او علمي پلوه ومني چې که سیاسي اسلام نشته، له «دین څخه د دولت» بېلتون مفکورې، ملي دروغجن مرزونه او ملي ګټې هم اسلامي نه دي. نو ولې دا ستر بدعت غیر اسلامي نه بولي؟ برعکس، مسلمانانو دا درک کړې چې واقعي اسلام هغه اسلام دی چې یو وخت یې له اندونیزیا څخه تر مراکشه او له هغه ځایه بیا تر منځنۍ اسیا او ختیځې اروپا پورې لنګر اچولی و؛ چې غرب وحشت معرفي کړی او سیاسي اسلام یې بللی دی. هو! موږ همداسې څه غواړو او په اسلام کې شته دي.

په ۱۷۷۷م کال کې امریکا د سوداګریزو کښتیو د تېرېدو په موخه د مراکش والي دریيم سلطان محمد ته جزیه ورکوله، نو په پایله کې نږدې درې لسیزې وروسته په ۱۸۰۵ م کال کې د امریکا د وخت ولسمشر توماس جفرسن هوډ وکړ چې د مسلمانانو پر وړاندې راپاڅي؛ چې نوره عثماني خلافت ته جزیه ورنه کړي؛ خو پر دغه کار بریالی نه شو او د تېر په څېر یې د خلافت دولت ته جزیه ورکوله. برعکس اوس داسې وخت دی چې ته وا مسلمانان غرب ته جزیه ورکوي او وروسته یې مقلدین د دوی افکارو ته تبلیغ کوي؛ چې «سیاسي اسلام» اسلام نه دی. ایا موږ ماتې خوړلې!؟